د نيمايي شپې په وروستۍ برخه کې الله تعالى بنده ته تر ټولو زيات نږدې وي

له ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دى وايي چې عمرو بن عبسة رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوږدلي چې فرمايل يې: "د نيمايي شپې په وروستۍ برخه کې الله تعالى بنده ته تر ټولو زيات نږدې وي، نو که دې وکولى شول له هغو خلکو شې چې هغه شيبېه کې الله يادوي نو شه".

[صحيح دى] [أبو داود، الترمذي او النسائي روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د شپې په وروستۍ دريمه برخه کې الله تعالى بنده ته ډېر نږدې وي؛ نو اې مؤمنه! که موفَق شوې او ودې کولى شول چې په دغه وخت کې له عبادت کوونکو، لمونځ کوونکو، ذکر کوونکو او توبه کوونکو څخه شې، نو دا يو فرصت دى چې له لاسه ورکول يې په کار نه دي، او بايد کوښښ پکې وشي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3236